دوزخ په خواهشاتو سره پوښل شوی دی، او جنت په سختيو سره پوښل شوی دی

له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: "دوزخ په خواهشاتو سره پوښل شوی دی، او جنت په سختيو سره پوښل شوی دی ".

[صحيح دی] [بخاري روايت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم واضحه کړه چې اور په هغو کارونو سره پوښل شوی دی چې نفس يې غواړي لکه حرام کارونه او يا په واجباتو کې غفلت کول. څوک چې نفس د خپلو خواهشاتو تابع کړي نو د اور مستحق دی. او دا چې جنت په هغو شيانو سره پوښل شوی دی چې نفس ترې کرکه کوي لکه د هغو کارونو تر سره کول چې امر پرې شوی وي، او د حرامو کارونو پريښودل او ترې صبر کول، نو که چېرته يې ترې ځان وساته او د خپل ځان سره يې مبارزه وکړه نو جنت ته د ننوتلو مستحق ګرځي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/3702